# کله چې رمضان راشي، نو عمره وکړه، ځکه په رمضان کې عمره (په ثواب کې) د حج سره برابره ده

له ابن عباس رضي الله عنهما څخه روايت دی وايي چې: رسول الله صلی الله عليه وسلم د انصارو يوې ښځې ته وفرمايل چې ابن عباس يې نوم واخيست او زما څخه يې نوم هېر شو: «څه شي منع کړې چې زموږ سره حج وکړې؟» هغې وويل: موږ يوازې دوه اوښان درلودل نو خاوند او زوی يې په يوه اوښ حج ته لاړل او بله اوښه يې موږ ته پرېښوده چې اوبه پرې راوړو، هغه وفرمايل: «کله چې رمضان راشي، نو عمره وکړه، ځکه په رمضان کې عمره (په ثواب کې) د حج سره برابره ده».

[صحيح دی] [متفق عليه دی]

کله چې رسول الله صلی الله عليه وسلم له حجة الوداع څخه راستون شو نو يوې انصار ښځې ته يې وويل چې حج يې نه و کړی: څه شي منع کړې چې موږ سره حج وکړې؟ نو هغې عذر وړاندې کړ چې دوي دوه اوښان درلودل، نو خاوند او زوي يې په يوه باندې حج وکړ او بل يې له ځان څخه د اوبو راوېستلو لپاره پرېښود. نو رسول الله صلی الله عليه وسلم خبر ورکړ چې د رمضان په مياشت کې عمرې ثواب د حج له ثواب سره برابره دی.

https://www.sunnah.global/hadeeth/ps/show/2753